امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه مدیریت حوادث

۱۸ الی ۲۳ اسد ۱۴۰۴

شماره یکصدو هجدهم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین د کونړ له والي سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث) د کارپوهانو، انجینرانو او تخنیکی او مسلکی غړو په مشرۍ کونړ ولایت ته سفر وکړ او د دې ولایت له والی الحاج مولوی قدرت‌الله ابو حمزه سره، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی محمد مبین مفتون عمر په شتون کې، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۵ نېټه وکتل او خبرې یې وکړې...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماین پاکۍ او بشری مرستو موسسې ترمنځ ټولټال د (۲۹،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداری عمومی رئیس، محترم الحاج مولوی محمد علم عالمیار، د ماین پاکۍ او بشری مرستو موسسې له رئیس، محترم انجنیر محمد شریف یعقوبی سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۵ نېټه...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ۱۴ عرادې تیز رفتاره وسایط وپېرل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې، چې پخوا یې د افغانستان اسلامی امارت د ریاست الوزراء عالي مقام د ۵/۱/۱۴۴۷ نیټې د ۸۶ شمېرې د حکم له مخې، ۱۳ عرادې بېلابېل ډوله موټرونه د آزادې مزایدې...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ مرستیال په کونړ ولایت کې د ډافا ماین پاکۍ موسسې د فعالیتونو راپور واورېده



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ مرستیال، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجی وارث) د خپل کاری سفر پر مهال د کونړ ولایت په مرکز کې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۵ نېټه...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معين د کونړ له والي سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث) د کارپوهانو، انجینرانو او تخنیکی او مسلکی غړو په مشرۍ کونړ ولایت ته سفر وکړ او د دې ولایت له والی الحاج مولوی قدرت‌الله ابو حمزه سره، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی محمد مبین مفتون عمر په شتون کې، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۵ نېټه وکتل او خبرې یې وکړې.

د غونډې په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین د خپل سفر موخه د اسلامی امارت د مشرتابه د احکامو، فرمانونو او مکتوبونو د څارنې او تعقیب، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د فعالیتونو ارزونه، د ستونزو پېژندنه او د وړاندیزونو ترلاسه کول وبلل. نوموړی زیاته کړه، چې دا اقدامات د پېښو د ښه مدیریت، د وقایوی پروژو د پلی کولو او د ولایت د مقام د غوښتنو د پوره کولو لپاره د همغږۍ د پیاوړتیا په موخه ترسره کېږي.

محترم معین صاحب ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره چمتو ده، د کونړ ولایت د اړتیاوو پر بنسټ د پېښو د مدیریت او د وقایوی پروژو د عملی کولو په برخه کې لازمه همکاری او رسېدنه وکړي.

په دوام کې، د کونړ والی محترم الحاج مولوی قدرت‌الله ابو حمزه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مشرتابه له هڅو مننه وکړه او څارنه یې د حکومتدارۍ یو مهم اصل وباله چې د کارونو د اغېزمنتیا لامل کېږي. نوموړی د کونړ ولایت اقتصادی وضعیت او د طبیعی پېښو پر وړاندې د دې ولایت زیانمنتیا ته په اشارې سره، د دې ادارې له مشرتابه څخه د جدی پاملرنې غوښتنه وکړه.

محترم والی صاحب د وروستیو بارانونو او سیلابونو د زیانونو یادونه وکړه او د زیانمنو سیمو د پاکولو، د مرستو د زیاتولو او د وقایوی پروژو د پلی کولو غوښتنه وکړه. هغه د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د فعالیتونو ستاینه وکړه او د مرکز له لوری د لا ډېرو ملاتړونو غوښتنه یې وکړه.

همدارنګه، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی محمد مبین مفتون عمر د وروستیو سیلابونو د تلفات او زیانونو شمېر او جزئیات وړاندې کړل او ویې ویل چې د زیانمنو کسانو د سروې او رسېدنې بهیر په یو وخت کې روان دی. هغه ټینګار وکړ چې د دې ولایت د جغرافیایی موقعیت له امله د لا ډېرو وقایوی پروژو عملی کول اړین دی.

د غونډې په پای کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین د کونړ ولایت د ستونزو په حل ټینګار وکړ او ویې ویل چې مطرح شوی موضوعات به د ادارې او د اسلامی له مشرتابه سره شریک کړي.

همدارنګه، معین صاحب د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له رئیس او کارکوونکو سره په لیدنه کې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه واورېدل او هغوی یې وهڅول چې چټک او اغېزمن خدمت وړاندې کړي. نوموړی له کارکوونکو وغوښتل چې له مراجعینو سره ښه چلند وکړي، دندې بې ځنډه ترسره کړي، د بیت‌المال په مصرف کې شفافیت په پام کې ونیسی او اداری اصول رعایت کړي.

د یادونې وړ ده، چې له معین صاحب سره تخنیکی پلاوی د یادو موضوعاتو هر اړخیزه ارزونه پیل کړې ده.

## له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ملي ادارې او د ماین پاکۍ او بشري مرستو موسسې ترمنځ ټولټال د (۲۹،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رئیس، محترم الحاج مولوی محمد علم عالمیار، د ماین پاکۍ او بشری مرستو موسسې له رئیس، محترم انجنیر محمد شریف یعقوبی سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۵ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.
محترم الحاج مولوی محمد علم عالمیار په دې لیدنه کې وویل، چې د دې تفاهم نامې لاسلیکول د هېواد خلکو ته د غوره خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې یو مهم ګام دی او موږ په دې هیله یو چې د مؤسسو په مرسته وکولای شو ترڅو د مرستو رسولو، وړاندوینو او د ماینونو او ناچاودو توکو څخه د سیمو د پاکولو په برخه کې اغېزمن او عملی پروګرامونه تطبیق کړو.
همدارنګه، محترم انجنیر محمد شریف یعقوبی د دې همکاریو څخه خوښی ښودلو ترڅنګ زیاته کړه، د بشری مرستو او ماین پاکۍ مؤسسه ژمنه ده، چې له خپلو تجربیو او امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره به له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره یو ځای د خطر کمولو، د ککړو سیمو د پاکولو او زیانمنو شویو ته د مرستو رسولو په برخه کې اغېزمن ګامونه واخلی.
په پای کې دواړو لوریو ټولټال د نه ویشت زره (۲۹،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکارۍ تفاهم‌نامه لاسلیک کړه، چې له مخې به یې یاده موسسې د یونسیف دفتر په ملاتړ په بغلان، کندز، تخار، بدخشان، بلخ، سرپل، فاریاب، ننګرهار، لغمان او کنړ ولایتونو کې د ۷۰ روغتیایی مرکزونو د جوړولو په موخه د ماین پاکۍ غیر تخنیکی سروې ترسره کړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ۱۴ عرادې تیز رفتاره وسایط وپېرل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې، چې پخوا یې د افغانستان اسلامی امارت د ریاست الوزراء عالی مقام د ۵/۱/۱۴۴۷ نېټې د ۸۶ شمېرې د حکم له مخې، ۱۳ عرادې بېلابېل ډوله موټرونه د آزادې مزایدې له لارې پلورلې وو، اوس یې ۱۴عرادې تیز رفتاره د ټویوټا کرولا ډول وسایط وپېرل.
هغه موټرونه چې پلورل شوی وو او د ادارې په اوسنی جوړښت کې د کارونې وړ نه وو، د قانونی اصولو او کړنلارو په بشپړ رعایت سره، په شفافه او علنی ډول د مزایدې لپاره وړاندې شوی وو. اوس له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رئیس، محترم الحاج مولوی محمد عالم علمیار په مشرۍ د موظف پلاوی او د چارو د محترمې ادارې او مالیې وزارت استازو په شتون کې، نوی موټرونه وپېرل شول.
د یادونې وړ ده چې دا اقدام د سرچینو د اغیزمن مدیریت، اداری شفافیت لوړولو، لګښتونو کمولو او په وخت سره چارو ته د رسېدنې په موخه ترسره شوی دی.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ مرستیال په کونړ ولایت کې د ډافا ماین پاکۍ موسسې د فعالیتونو راپور واورېده




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ مرستیال، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث) د خپل کاری سفر پر مهال د کونړ ولایت په مرکز کې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۵ نېټه د ډافا د ماین‌پاکۍ پروګرام له مسئول احسان‌الحق منیب سره، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی محمد مبین مفتون عمر، تخنیکی او مسلکی انجینرانو او د یاد ریاست د کارکوونکو په شتون کې، لیدنه او خبرې وکړې. د دې لیدنې موخه په کونړ ولایت کې د یادې موسسې د کړنو د راپور اورېدل او ارزونه وه.

په دې غونډه کې د ډافا ماین‌پاکۍ پروګرام مسئول د ترسره شویو چارو له مخې مفصل راپور وړاندې کړ او ویې ویل، چې تر اوسه د دې ولایت پراخې سیمې چې په ماینونو او ناچاوده توکو ککړې وې، په بریالیتوب سره کشف او خنثی کړل شوی دی. نوموړی زیاته کړه، چې د تخنیکی عملیاتو تر څنګ، د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو د عامه پوهاوی پروګرامونه هم د سیمې خلکو ته پیل شوی، ترڅو د دغو ګواښونو له امله د مرګ‌ژوبلې او زیانونو کچه راکمه شي.

همدارنګه نوموړی څرګنده کړه، چې د دغه پروګرام بیرنۍ ځواب ویونکی ټیمونه په کونړ کې فعال دی او د خلکو د اړیکو ترلاسه کېدو سره سم سمدستی سیمې ته استول کېږی او اړین اقدامات ترسره کوی. د هغه په وینا، د اصلی ماین‌پاکۍ فعالیتونو تر څنګ، دغه پروګرام د طبیعی پېښو لکه سېلابونو پر مهال د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره د سیمو پر پاکولو او د زیانمنو شوو خلکو په مرسته کې مهم رول لوبولی دی.

محترم الحاج ملا عبدالولی سارنوال (حاجی وارث) د راپور له اورېدو وروسته د ماین‌پاکۍ د مؤسسو له هڅو او لاسته‌راوړنو مننه وکړه او ویې ویل، چې اوسنی امنیتی شرایط او امکانات د ککړو سیمو د پاکولو د چټکتیا لپاره ښه زمینه برابروی. هغه فعالو مؤسسو ته لارښوونه وکړه، چې په لا ډېر جدیت او چټکتیا کار ته دوام ورکړی او په ټولو پړاوونو کې د شفافیت، چټکتیا او د خلکو اړتیاوې په پام کې ونیسی.

هغه زیاته کړه، چې د ماینونو او ناچاوده توکو بشپړه پاک‌کاری به د بنسټیزو او اقتصادی پروژو د پلی کېدو لپاره زمینه برابره کړی، او له اړوندو ادارو یې وغوښتل، چې د ماین‌پاکۍ چارو له ختمېدو وروسته دې په دغو سیمو کې مهمې او پرمختیایی پروژې عملی کړی.

د یادونې وړ ده، چې د ماین‌پاکۍ پروګرام له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې تر څتر لاندې فعالیت کوی او تر اوسه یې په هېواد کې د ماینونو او ناچاوده توکو د موندلو، شنډولو او له منځه وړلو په برخه کې د پام وړ لاسته‌راوړنې لرلې دی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ښځو د همغږۍ او پرمختګ موسسې ترمنځ ټولټال د (۱۰،۶۲۶) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رئیس، محترم الحاج مولوی محمد عالم علمیار د افغان ښځو د همغږۍ او پرمختګ موسسې له مرستیال، محترم محمد نور صالحی سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۷ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.
محترم الحاج مولوی محمد عالم علمیار په دې لیدنه کې وویل چې د دې تفاهم‌نامې لاسلیک کول د هېواد له زیانمنو خلکو سره د مرستې په لاره کې یو مهم ګام دی او موږ د داسې پروژو له پلی کېدو هرکلی کوو.
همدارنګه د افغان ښځو د همغږۍ او پرمختګ موسسې مرستیال، محترم محمد نور صالحی، د یادی پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او د دې تفاهم‌نامې پر وخت او په شفاف ډول د پلی کولو ژمنه یې وکړه.
په پای کې، دواړو لوریو ټولټال د لس زره او شپږ سوه او شپږ ویشت (۱۰،۶۲۶) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک کړه. چې له مخې به یې، یاده موسسه د خوړو نړیوال پروګرام په ملاتړ د پکتیا ولایت په ولسوالیو کې، د پېښې رامنځته کېدو په صورت کې او له سروې وروسته، ۲۴۵ کورنیو ته نغدی او یا هم خوراکی توکی وویشی. په نغدی مرستو کې به هرې کورنۍ ته ۵۸۰۰ افغانۍ په دوو پړاوونو کې ورکړل شی، او په خوراکی مرستو کې به هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، یو کیلو مالګه او ۱۲.۵ کیلو دال وویشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین په کونړ ولایت کې د ۲۶۷ کورنیو لپاره د خوراکی مرستو د وېش بهیر پیل کړ



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، کونړ ولایت ته د خپل رسمی سفر په ترڅ کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی محمد مبین مفتون عمر، د هغه مل پلاوی او د دې ریاست د کارکوونکو په شتون کې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۷ نېټه د کونړ ولایت د مرکز اسعدآباد او د چپه‌درې ولسوالۍ د ۲۶۷ کورنیو لپاره د خوراکی مرستو د وېش بهیر پیل کړ.
د پېښو چارو د همغږۍ معین وویل، چې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP)سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د همغږۍ پر بنسټ، په مرکز اسعدآباد کې ۴ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۲.۵ کیلو دال، ۹.۱ لیتره غوړی او ۲ کیلو مالګه ووېشل شول. همدارنګه د دې ادارې او د AYSO مؤسسې ترمنځ د تفاهم‌نامې له مخې، د چپه درې ولسوالۍ ۲۶۳ زیانمنو، بېوزله او مستحقو کورنیو هرې یوې ته یوه بوروۍ ۵۰ کیلویی اوړه، ۵ لیتره غوړی او ۷ کیلو دال ووېشل شول.
نوموړی د خوړو نړیوال پروګرام او د AYSO مؤسسې له مرستو څخه د قدردانۍ تر څنګ له نورو نړیوالو بنسټونو هم وغوښتل چې له سیاسی ملاحظو پرته له افغان ولس سره خپلو بشردوستانه مرستو ته دوام ورکړی او د دغو مرستو کچه زیاته کړی.
په همدې حال کې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی محمد مبین مفتون عمر له مرستندویه ادارو څخه په مننې سره ټینګار وکړ چې د دې ولایت د زیانمنو خلکو لپاره د لا زیاتو مرستو د جلب او جذب هڅې به جاری وساتی.
د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د اړمنو خلکو لپاره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې هڅې وستایلې او له دې مرستو یې خوښی او مننه څرګنده کړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د زرغون افغانستان کرنې او مالدارۍ موسسې ترمنځ ټولټال د (۷،۳۹۱) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رئیس، محترم الحاج مولوی محمد عالم علمیار د زرغون افغانستان کرنې او مالدارۍ مؤسسې له رییس، محترم ډاکتر غلام سرور ظهیر سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۷ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم الحاج مولوی محمد عالم علمیار په دې لیدنه کې وویل، چې افغانستان د ټولو ګډ کور دی او هر افغان باید نورو هېوادوالو ته د مرستو رسولو په هڅه کې وی، نو له همدې امله د دې تفاهم‌نامې لاسلیک کول د هېواد له زیانمنو خلکو سره د مرستې په لاره کې یو مهم ګام دی او موږ د داسې پروژو له پلی کېدو هرکلی کوو.

همدارنګه د زرغون افغانستان کرنې او مالدارۍ موسسې رییس، محترم ډاکټر غلام سرور ظهیر، د یادی پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل لومړنۍ ځل دی چې له دولتی ادارې سره زموږ کارونه په چټکۍ سره مخکې ځی، چې له همدې امله له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له رهبرۍ او کار کوونکو څخه مننه کوم.

په پای کې، دواړو لوریو ټولټال د اوه زره درې سوه او یو نوی (۷،۳۹۱) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک کړه. چې له مخې به یې، یاده موسسه د خوړو نړیوال پروګرام په ملاتړ د خوست ولایت په ولسوالیو کې، د پېښې رامنځته کېدو په صورت کې او له سروې وروسته، ۱۶۹ کورنیو ته نغدی او یا هم خوراکی توکی ووېشی. په نغدی مرستو کې به هرې کورنۍ ته ۲۹۰۰ افغانۍ ورکړل شی، او په خوراکی مرستو کې به هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ٤.٥٥ کیلو غوړی، نیم کیلو مالګه او ٦.٢٥ کیلو دال ووېشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د APBHO مؤسسې تر منځ ټولټال د یوولس زره او شل (۱۱,۰۲۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رئیس، محترم الحاج مولوی محمد عالم علمیار د APBHO مؤسسې له مرستیال محمد احسان صابری سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۸ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم علمیار صاحب د دې لیدنې پر مهال وویل، چې افغانستان د ټولو ګډ کور دی او د هر افغان دنده ده چې د خپلو نورو هېوادوالو په مرسته او لاسنیوی کې برخه واخلی. هغه زیاته کړه چې د دې تفاهم‌نامې لاسلیک د هېواد له زیانمنو خلکو سره د مرستې رسولو په برخه کې یو مهم ګام دی او موږ د دې ډول پروګرامونو له پیل او پرمخ وړلو ملاتړ کوو.

له بلې خوا، د APBHO مؤسسې مرستیال محمد احسان صابری د هغه پروژې په اړه معلومات ورکړل چې په نږدې راتلونکی کې به په پروان ولایت کې پلی کېږی، او ژمنه یې وکړه چې پروژه به په چټکۍ او روڼتیا سره عملی کړی.

په پای کې دواړو لوریو ټولټال د یوولس زره او شل (۱۱,۰۲۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک کړه. د دې تفاهم نامې له مخې ټاکل شوې چې یاده مؤسسه به د خوړو نړیوال پروګرام په ملاتړ، د پروان ولایت په ولسوالیو کې د پېښې د رامنځته کېدو په صورت کې، له سروې وروسته، ۲۴۵ کورنیو ته یا د نغدو پیسو او یا هم د خوراکی توکو مرستې ووېشی. په دې مرسته کې د هرې کورنۍ لپاره ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، یو کیلو مالګه او ۱۲.۵ کیلو دال په پام کې نیول شوی دی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د لېد د پراختیا موسسې ترمنځ ټولټال د (۱۱,۱۰۳) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری چارو عمومی رئیس، محترم الحاج مولوی محمد عالم علمیار، د لېد د پراختیا موسسې له اجرائیوی مرستیال، محترم محمد هارون محمدزی سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۸ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړ.

محترم علمیار صاحب وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره په ټول افغانستان کې د خلکو سره د مرستې په برخه کې له موسسو سره ښې همکارۍ لری او اړینې آسانتیاوې ورته برابروی. نو له همدې امله موسسې باید هڅه وکړی چې نورې مرستې هم جذب کړی.

له بلې خوا، د لېد د پراختیا موسسې اجرائیوی مرستیال، محترم محمد هارون محمدزی د روانو پروژو په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړل او د دې ادارې له همکاریو یې مننه وکړه. هغه وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره یوازینۍ اداره ده چې زموږ کارونه په دې چټکۍ سره ترسره کوی.

په پای کې دواړو لوریو ټولټال د یوولس زره او یو سل او درې (۱۱,۱۰۳) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک کړه. د دې تفاهم نامې له مخې، یاده موسسه به د خوړو نړیوال پروګرام په ملاتړ د ننګرهار ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د پېښې د رامنځته کېدو په صورت کې ۵۹۸ کورنیو ته، له سروې وروسته، یا د نغدو پیسو او یا هم د خوراکی توکو په بڼه مرستې ووېشی. په دې توګه چې د هرې کورنۍ لپاره که نغدی مرسته وی، په دوو پړاوونو کې ۵۸۰۰ افغانۍ ټاکل شوی او د خوراکی مرستې په صورت کې، هرې کورنۍ ته به ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، یو کیلو مالګه او ۱۲.۵ کیلو دال وویشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکبر مؤسسې ترمنځ د همغږۍ غونډه ترسره شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د اکبر مؤسسې ترمنځ له ملی او نړیوالو مؤسسو سره د یادې ادارې د تخنیکی همغږۍ او همکارۍ د پیاوړتیا په موخه د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۸ نېټه غونډه ترسره شوه.

په دې ناسته کې د ادارې له لوری، د بهرنیو اړیکو آمر محترم برهان‌الدین شینواری او د ادارې د پراختیا آمر محترم نوراحمد صاحب‌زاده، او د اکبر مؤسسې له لوری محترم حمیدالله احمدی ګډون درلود.

د دې لیدنې پر مهال، دواړو لوریو د تخنیکی، فنی، مسلکی او بشری همغږۍ او همکاریو د پراختیا ترڅنګ، د دغو همکاریو د لا ښه کېدو او پراخېدو پر لارو چارو خبرې او نظرونه تبادله کړل. محترم حمیدالله احمدی په خپلو خبرو کې وویل چې ټولې هغه مؤسسې چې د پېښو د مدیریت او اړمنو کسانو د مرستې په برخه کې کار کوی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې په اړه نیک نظر لری او وایی چې دا اداره له مؤسسو سره تر ټولو ډېره همکاری کوی او د موسسو لپاره لازمې اسانتیاوې برابروی. نوموړی زیاته کړه چې مؤسسې له دې ادارې سره د خپلو همکاریو د پراختیا لپاره لیوالتیا لری.

## د پېښو چارو د همغږۍ معین د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست څخه څارنه وکړه او د دې ولایت له والي یې سره وکتل



د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د تخنیکی، مسلکی او فنی پلاوی په مشرۍ د هېواد ولایتونو ته د رسمی سفرونو په لړ کې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۹ نېټه ننگرهار ولایت ته ولاړ.
محترم معین صاحب لومړی د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست د کار بهیر یې له نږدې وڅېړه.
نوموړی له رییس او کارکوونکو سره د ستونزو، نظریاتو او وړاندیزونو په اړه خبرې وکړې او هغوی یې چټکو، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو ته وهڅول.
د سفر موخه د کارکوونکو د نظریاتو او وړاندیزونو ترلاسه کول، د فرامینو، احکامو، هدایاتو، وقایوی پروژو، مالی او اداری چارو، نشراتی چارو، ماین‌پاکۍ، هوکړه لیکونو، د دفترونو تنظیم، د منظم کاری چاپېریال رامنځته کول، د ولایت له مقام سره د همغږۍ پیاوړتیا، د تقنینی اسنادو د آرشیف سم تنظیم او معیاری گدامونو جوړول وو.
په دوام کې، الحاج ملا عبدالولی څارنوال د ننگرهار له والی الحاج ملا محمد نعیم آخند سره، د ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د رییس قاری داد محمد حسینی په حضور کې وکتل. په دې ناسته کې دواړو لوریو د پېښو د اغېزمن مدیریت، زیانمنو کسانو ته بېړنۍ مرستې او د خطرونو د کمولو لپاره د وقایوی پروژو د پلی کېدو په اړه نظرونه تبادله کړل.
په پای کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست له هڅو څخه مننه وکړه او پر دې یې ټینگار وکړ چې له مراجعینو سره ښه چلند، د کارونو پر وخت بشپړول، د بیت‌المال شفاف او سم استعمال، د اداری اصولو او معیارونو رعایت او خلکو ته صادقانه خدمت باید د ټولو لومړیتوب وی. نوموړی کارکوونکی د ملت خادمان وبلل او له هغوی یې وغوښتل چې د خپلو مسلکی وړتیاوو په کارولو سره د هېواد په پرمختگ او ودې کې فعاله ونډه واخلی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) گڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په گډون د دې ادارې په انگړ کې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۰ نېټه ترسره شوه.
غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.
وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د گډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.
د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.



## د پیښو چارو د همغږۍ معین په تورخم کې د دې ادارې لخوا جوړ شوی پنډغالي ځخه څارنه وکړه او راستنېدونکو ته پر رسېدنې یې ټینګار وکړ

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، ننګرهار ولایت ته د خپل کاری سفر په ترځ کې، د یاد ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم قاری داد محمد حسینی په ملتیا، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۰ نېټه د تورخم پر فرضی کرښه کې د دې ادارې لخوا جوړ شوی پنډغالی ځخه لیدنه او څارنه وکړه.
په دې لیدنه کې، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال راستنېدونکو ته د خدمتونو د رسونې له بهیر ځخه د ارزونې ترڅنګ، د پنډغالی کارکوونکی له مراجعینو سره نیک چلند ته وهڅول او هغوی ته یې لازمې لارښوونې وکړې.
همدارنګه، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال د تورخم په فرضی کرښه کې له فعالیتونو ځخه لیدنه وکړه او د راستنېدونکو لپاره یې د لازمو اسانتیاوو پر برابرولو، د خدمتونو د رسونې بهیر پر چټکتیا او د اړوند ادارو ترمنځ پر اغېزناکې همغږۍ یې ټینګار وکړ.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل کار ساخت یک دیوار استنادی را در ولسوالی استالف آغاز کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل به‌منظور جلوگیری از خطرات سیلاب‌ها و پیشگیری از خسارات جانی و مالی، بتاریخ ۱۹ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق سنگ تهداب پروژه ساخت دیوار استنادی را در قریه دهن‌گذر ولسوالی استالف با حضور شماری از مسئولین محلی گذاشت.
این پروژه بر اساس حکم عالی‌قدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله، از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تمویل و تطبیق می‌شود.
قابل یادآوری است که انجنیران اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث پیش‌تر در قریه دهن‌گذر سروی مناطق آسیب‌پذیر را انجام داده بود که این منطقه در معرض خطر سیلاب‌ها شناسایی شده است.
اکنون با هزینه یک میلیون افغانی، کار ساخت دیوار استنادی به طول ۹۰ متر در این منطقه عملاً آغاز شده است.
همچنان، باشندگان محل از آغاز این پروژه ابراز خرسندی کرده و برای بقای نظام و ثبات آن دعا کردند.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د شاجوی، ارغنداب، خاک افغان ولسوالیو او مرکز قلات اړوند ۱۱ کورنیو ته چې د اورلګیدنې له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۵ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۲ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، ۱ تخته چریکي بستره، ۵ چکۍ د لاس منځلو صابون او له دې جملې یوې کورنۍ ته د ذکر شوو توکو سربېره ۱ باب چینایي خېمه هم ووېشل شوه.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۴ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، یاد ولایت ته له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباري توګه راستنېدونکو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۵ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، یو عدد پلاستیکي سطل، یو عدد ترموز، پنځه جوړه څپلکې او دوه بستې پلاستیکي لوښي ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۳۱۵ خانواده کمک نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه آغاخان برای اسکان(AKAH)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با حمایت مالی این مؤسسه، برای ۳۱۵ خانواده سیلاب‌زده و نیازمند در ولسوالی بغلان مرکزی، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۵ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع نمود.
در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین، به‌عنوان قسط اول مبلغ ۴،۳۵۰ افغانی پرداخت شد که در مجموع یک میلیون و سیصد و هفتاد هزار و دوصد و پنجاه (۱،۳۷۰،۲۵۰) افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.

## په غزني ولایت کې دوه کړۍ د ټانک ضد ماینونه کشف او خنثی کړل شول




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د ماین پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست، د ایریا ماین پاکۍ موسسې د بېړنۍ ځواب ویني ټیم د بېړنیو پیښو (0708606060) د شمېرې له لارې د ترلاسه شوی اړیکې پر بنسټ د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۵ نېټه د ماین پاکی د عملیاتو لپاره غزني ولایت ته ولیږدوه.

د دې عملیاتو په پایله کې د یاد ټیم لخوا دوه کړۍ د ټانک ضد ماینونه چې د سیمې د اوسېدونکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی و، د یاد ټیم لخوا کشف، په خوندی توګه انتقال او له منځه یوووړل شوې.

سربېره پر دې یې، د سیمې اوسېدونکو ته د ماینونو او ناچاودو توکو د ګواښونو په اړه د عامه پوهاوی پروګرام هم ترسره کړ، ترڅو په راتلونکې کې د ماینونو او ناچاوده تو له امله د احتمالی پېښو مخنیوی وشی.

## د غزني ولایت په واغظ ولسوالۍ کې د توپ او هاوان مرمۍ کشف او خنثی کړل شوې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د ماین پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست، د ایریا ماین پاکۍ موسسې د بېړنۍ ځواب ویني ټیم د بېړنیو پیښو (0708606060) د شمېرې له لارې د ترلاسه شوی اړیکې پر بنسټ د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۵ نېټه د ماین پاکی د عملیاتو لپاره غزني ولایت ته ولیږدوه.

د دې عملیاتو په پایله کې د یاد ټیم لخوا یوه د توپ او یوه د هاوان مرمۍ چې د سیمې د اوسېدونکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړی و، د یاد ټیم لخوا کشف، په خوندی توګه انتقال او له منځه یوووړل شوې.

سربېره پر دې یې، د سیمې اوسېدونکو ته د ماینونو او ناچاودو توکو د ګواښونو په اړه د عامه پوهاوی پروګرام هم ترسره کړ، ترڅو په راتلونکې کې د ماینونو او ناچاوده تو له امله د احتمالی پېښو مخنیوی وشی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۱۵ خانواده کمک‌های غذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی، در شهر نیلی مرکز آن ولایت، برای ۱۵ خانواده نیازمند و بی‌جاشده که به دلیل خشکسالی متضرر شده بودند، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۵ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی توزیع کرد.

در این برنامه که با حضور مسؤولان برگزار شد، به هر خانواده یک بوری برنج ۲۵ کیلویی و یک بسته صحی توزیع گردید.

## په پکتیکا ولایت کې ناچاوده توکی خنثی کړل شو



د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ د هلو ټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې تخنیکی ټیم، د یاد ولایت د شکین ولسوالۍ په شمس الدین چینی کلی کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوی د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۶ نېټه یو عدد ناچاوده توکی کشف او په خوندی توګه خنثی کړ.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو وویل، چې د چاودېدونکو توکو له امله د خلکو ځان او مال له خطر سره مخ وو، چې اوس مهال د دې ناچاوده توکی په پاکولو سره سیمه له خطر څخه پاکه شوه. همدا راز، هغوی له خلکو څخه غوښتنه وکړه چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لیدو په وخت کې دې ژر تر ژره د اړونده مسؤلینو سره د اړینو اقداماتو ترسره کولو لپاره اړیکه ونیسی.

## کشف و خنثی‌سازی مواد منفجر ناشده در ولسوالی نهر سراج ولایت هلمند




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هلمند با حمایت تیم تخنیکی پاسخ عاجل QRT-11 مؤسسه ماین‌پاکی AREA، بتاریخ ۱۶ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق در ناحیه نهم ولسوالی نهر سراج آن ولایت، پنج فیر مرمی RPG۲ و یک فیر مرمی راکت ۸۲ میلی‌متری را کشف و به‌گونهٔ مصئون از بین بردند.

مسؤولان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هلمند از مردم خواسته‌اند که در صورت مشاهده هرگونه مواد مشکوک یا انفجاری، فوراً با مسؤولان مربوط برای انجام اقدامات لازم تماس بگیرند.

## د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۴ شهیدانو ورثه او د ۸ ټپیانو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست د لارښوونې له مخې، د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په دانګام ولسوالۍ کې د ورستیو سېلابونو او د پاکستان هېواد لخوا د راکټې بریدونو له امله د ٤ شهیدانو ورثه او د ٨ ټپیانو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۶ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د هر شهید ورثه ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲۰،۰۰۰ افغانۍ او د هر ټپی کورنۍ ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره یو لک او شپېته زره (١٦٠،٠٠٠) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو تر لاسه کوونکو کورنیو د مرستو د ورکولو او د رسېدنې په پار له اړوندو مسؤلینو څخه مننه او قدر دانی وکړ.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ARCI مؤسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله ۵۴ زیانمنو کورنیو ته له سروې ووسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۶ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱ کیلو مالګه او ۱۲.۵ کیلو دال ووېشل شول.

## کشف و خنثی سازی یک بمب ۲۵۰ کیلویی در ولسوالی المار ولایت فاریاب




ریاست انسجام و هماهنگی تطهیر ماین اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، تیم پاسخ‌دهی عاجل مؤسسه ماین‌پاکی اومر را بر اساس تماسی که از طریق شماره وقایع عاجل (۰۷۰۸۶۰۶۰۶۰) دریافت شده بود، بتاریخ ۱۶ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق به ولسوالی المار ولایت فاریاب برای انجام عملیات ماین‌پاکی اعزام نمود.

در نتیجه این عملیات، یک بمب به وزن ۲۵۰ کیلوگرام که زندگی باشنده‌گان محل را با تهدید مواجه کرده بود، توسط این تیم کشف، به شکل مصون انتقال داده شده و از بین برده شد.

علاوه بر این، برای باشندگان محل برنامه آگاهی‌دهی عامه در مورد خطرات ماین‌ها و مواد منفجره منفجرنشده نیز برگزار گردید تا از وقوع حوادث احتمالی ناشی از این مواد در آینده جلوگیری شود.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ٦٣٠ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسې (AKAH) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په واخان او یمګان ولسوالیو کې ٦٣٠ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۶ نېټه د زیانمنوکو کورنیو د ښه والي په موخه دبېړنیو او ځو اړخه ملاتړ مرستو پروژې تر سرلیک لاندې نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ٤،٣٥٠ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال دوه میلیون او اوه سوه او څلویښت زره او پنځه سوه (٢،٧٤٠،٥٠٠) افغانۍ نغدي پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۲۲۶۷ خانواده نیازمند مساعدت نقدی توزیع نمود




براساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با کمیته بین المللی نجات(IRC)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس با حمایت مالی این مؤسسه، برای ۲۲۶۷ خانواده نیازمند در ولسوالی آبکمری پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۶ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک نقدی توزیع کرد.

این توزیع در دو مرحله بود و در این روند با حضور مسئولین، برای هر خانواده با مبالغ متفاوت از (۱۲۱ شروع الی ۲۴۰) دالر معادل آن به افغانی توزیع شد که در مجموع برای ۲۲۶۷ خانواده مبلغ بیست و هفت میلیون و ششصد و سی و نه هزار و نهصد افغانی (۲۷,۶۳۹,۹۰۰) پول نقد توزیع گردید.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۹۹ کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د VDO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي همکارۍ، د دې ولایت د ګوشتې ولسوالۍ اړوند ۲۹۹ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۶ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسولینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیټره غوړی، ۱ کیلو مالګه او ۱۲.۵ کیلو دال ووېشل شول.




## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۷ تنه شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د طبیعی پېښو له امله د ۱۷ تنه شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۷ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسولینو په شتون کې د پنځه تنه شهیدانو هرې کورنۍ ته ۲۰ زره افغانۍ او د ۱۲ تنه ټپیانو کورنیو هرې یوې ته ۱۰ زره افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره دوه لکه او شل زره (۲۲۰،۰۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

# د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۵۷ زیانمنو کورنیو ته د خوراکي توکو مرستې ووشلې




د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په دره پیچ ولسوالۍ کې ۴۵۷ زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۷ نېټه د خوراکي توکو د مرستې د وېشلو لړۍ پیل کړه.

دا پروګرام په رسمی ډول د دره پیچ ولسوال؛ محترم مولوی عبدالله ابو حمزه، د AYSO مؤسسې د مسؤلینو، قومی مشرانو او د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس؛ محترم مولوی محمد مبین مفتون عمر په شتون کې پرانیستل شو.

محترم مولوی محمد مبین مفتون عمر د مراسمو په ترڅ کې وویل چې دا مرسته له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د AYSO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ او د UN_OCHA دفتر په ملاتړ او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست تر چتر لاندې ووېشل شوه. هغه د جغرافیایی موقعیت له امله د طبیعی پېښو په وړاندې د کونړ ولایت زیانمنونکی والی ته په اشارې سره له ملی او نړیوالو مؤسسو څخه وغوښتل چې د بشری مرستو سربېره دې په دې ولایت کې وقایوی پروژې هم پلي کړي.

ورپسې، د دره پیچ ولسوال؛ محترم مولوی عبدالله ابو حمزه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او AYSO څخه د قدردانی کولو ترڅنګ، په دې ولسوالۍ کې د اړمنو خلکو لپاره د لا زیاتې پاملرنې او مرستې غوښتنه وکړه.

په پای کې، ترلاسه کونکو کورنیو د مرستندویه بنسټونو څخه مننه وکړه او د دوی د دوامداره همکارۍ او بریالیتوب لپاره یې د خیر دعا وکړه.

د یادونې وړ ده، چې په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیټره غوړی او ۷ کیلو دال نخود ووېشل شول.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۱۱۱ خانواده مستحق مواد خوراکی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۷ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۱۱ خانواده مستحق در آن ولایت مواد خوراکی توزیع کرد.

در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین محلی ۱۰۰ کیلو گندم توزیع شد.

## په پکتیکا ولایت کې ناچاوده توکی خنثی کړل شول




د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ د هلوټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې تخنیکی ټیم، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۸ نېټه د یاد ولایت د شکین ولسوالۍ په شمس الدین چینی کلی کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوی ۱۷عدده بېلابېل ډول ناچاوده توکی کشف او په خوندی توګه خنثی کړل.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو وویل، چې د چاودېدونکو توکو له امله د خلکو ځان او مال له خطر سره مخ وو، چې اوس مهال د دې ناچاوده توکو په پاکولو سره سیمه له خطر څخه پاکه او د سیمې اوسېدونکی له احتمالی مرګ ژوبلې او نورو زیانونو څخه خوندی پاتې شول. همدا راز، هغوی له خلکو څخه غوښتنه وکړه چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لېدو په وخت کې دې ژر تر ژره د اړونده مسؤلینو سره د اړینو اقداماتو ترسره کولو لپاره اړیکه ونیسی.

## د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶۳ کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د افغان ځوانانو خدماتو (AYSO) موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی همکارۍ، د دی ولایت د چپې درې ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې ۲۶۳ اړمنو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۸ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسولینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ٤ لیټره غوړی، نیم کیلو مالګه او ٤ کیلو دال ووېشل شول.

## په کندهار ولایت کې ناچاوده توکی خنثی کړل شول




د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې، د DRC موسسې د بېړنۍ ځواب وینې تخنیکی ټیم QRT-5 د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۸ نېټه د کندهار ښار په اوومه ناحیه کې ناچاوده توکی کشف او په خوندی توګه له منځه یووړل.

د یادونې وړ ده، چې د چاودېدونکو توکو له امله د خلکو ځان او مال له خطر سره مخ وو او د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنې پر بنسټ د ماین پاکۍ دا عملیات ترسره شول او اوس مهال د دې ناچاوده توکو په پاکولو سره سیمه له خطر څخه پاکه او د سیمې اوسېدونکی له احتمالی مرګ ژوبلې او نورو زیانونو څخه خوندی پاتې شول. د یاد ریاست مسؤلینو له خلکو څخه غوښتنه وکړه چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لېدو په وخت کې دې ژر تر ژره د اړونده مسؤلینو سره د اړینو اقداماتو ترسره کولو لپاره اړیکه ونیسی.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۲ کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د افغان ځوانانو خدماتو (AYSO) موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی همکارۍ، د دی ولایت د ډانګام ولسوالۍ اړوند ۱۴۲ اړمنو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۹ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۴ لیټره غوړی، نیم کیلو مالګه او ۴ کیلو دال ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۹۸ خانواده مهاجر اخراج اجباری مساعدت خوراکی کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، بر اساس حکم مقام آن ولایت برای ۹۸ خانواده مهاجرین اخراج اجباری از کشور های همسایه مستقر در آن ولایت، پس از سروی بتاریخ ۱۸ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت غذایی توزیع کرد.
دراین روند، با حضور مسوولان برای هر خانواده مقدار ۵۰ کیلو آرد و ۲۵ کیلو برنج توزیع شد.

## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۱ کورنیو ته غیر خوراکی مرستې ووېشلې



د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د IOM او UNICEF سازمانونو په ملاتړ، د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنو شویو ۵۱ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۹ نېټه غیر خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۳ تختې کمپلې، ۱ تخته پلاستیکی فرش، ۲ عدده سولری څراغونه او یو هایجن کیټ ووېشل او همداراز څلور کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړه توګه ویجاړ شوی وو، هرې کورنۍ ته یوه پایه معیاری خېمه هم ووېشل شوه.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰ کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې



د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې، ۱۵۰ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۹ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو اوړه او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې او ۴۸ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو یو د پخلنځي کیټ هم ووېشل شو.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو ورکولو له امله خوښي څرګنده کړه او دې ورته نورو مرستو غوښتنه یې وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ۱۴ خانواده کمک‌های غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر با حمایت مالی سازمان بین‌المللی مهاجرت، در ولسوالی‌های برکنر، نورگل و سرکانو آن ولایت، برای ۱۴ خانواده که در پی بارندگی‌های اخیر متضرر شده بودند، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۹ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غیرغذایی توزیع کرد.

در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولان یک کِیت سرپناه، یک کِیت خانوادگی، یک کِیت کمپل و یک کِیت چراغ سولری توزیع شد. همچنان برای ۸ خانواده که منازل‌شان به طور کامل تخریب شده بود، برای هر خانواده یک باب خیمه نیز توزیع گردید.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۳ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ځوانانو خدماتي موسسې (AYSO) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي همکارۍ، د دې ولایت د غازي آباد ولسوالۍ اړوند ۱۵۳ اړمنو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۹ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۴ لیتره غوړي، نیم کیلو مالګه او ۴ کیلو دال ووېشل شول.

## کشف و خنثی‌سازی مقداری مواد منفجر ناشده در هرات



ریاست انسجام و هماهنگی تطهیر ماین اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، بر اساس تماس دریافت‌شده از طریق شماره تماس اضطراری (۰۷۰۸۶۰۶۰۶۰)، بتاریخ ۲۰ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق تیم پاسخ عاجل مؤسسه هیلوترست را جهت انجام عملیات به ولایت هرات اعزام کرد.

در نتیجه این عملیات، تیم مذکور یک مقدار مهمات را که زندگی باشندگان محل را با خطر مواجه ساخته بود، کشف، به‌گونهٔ مصئون انتقال و از بین برد.

همچنین، به منظور پیشگیری از حوادث احتمالی ناشی از ماین‌ها و مواد انفجاری باقی‌مانده از جنگ، برای باشندگان محل برنامه آگاهی دهی عامه در مورد خطرات ماین‌ها و مواد انفجاری برگزار شد.

## په هرات ولایت کې د لوېدیځ زون له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو او سکتوری ادارو د کارکوونکو لپاره بشری مرستو ته د لاسرسی او خوندیتوب په اړه څو اړخیزه ګډ ورکشاپ ترسره شو




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د جنیوا کال نړیوالې مؤسسې تر منځ د هوکړه لیک پر بنسټ، دې ادارې د همدې مؤسسې په ملاتړ د هرات، فراه، نیمروز، غور او بادغیس ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو او د نورو سکتوری ادارو د ۲۵ تنه کارکوونکو لپاره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۱۹ نېټه بشری مرستو ته د لاسرسی او خوندیتوب په اړه څو اړخیزه ورکشاپ په هرات ولایت کې ترسره کړ.

په دی دوه ورځنی ورکشاپ کې، د ادارې د نړیوالو اړیکو رئیس محترم مولوی حافظ عبدالرحمن رحمانی د موضوع پر اهمیت او د بشری مرستو او خوندیتوب په برخه کې پر اغېزمن رول ټینګار وکړ او څرګنده یې کړه چې دا موضوع د اسلامی شریعت له نظره ځانګړې مرتبه لری. نوموړی له کارپوهانو او له ملت سره د وفادارو کسانو څخه وغوښتل چې خپلې تجربې د خلکو او اسلامی نظام په خدمت کې شریکې کړی.

د یادونې وړ ده، چې له ګډونوالو څخه ۱۰ تنه د یادو ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو کارکوونکی او پاتې ۱۵ تنه د نورو سکتوری ادارو کارکوونکی وو.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي، غیر خوراکي او نغدي مرستې ووېشلې




د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د مرکز او بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۲۴ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۰ نېټه خوراکي او غیر خوراکي او د ۱ شهید ورثه ته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې له یادې جملې ۱۳ کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وریجې، ۲ تختې کمپلې، ۳ تختې توسان، ۳ جوړه څپلکې، ۳ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وریجې، ۵ تختې کمپلې، ۵ تختې توسان، ۵ جوړې چپلکې، ۸ کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وریجې، ۳ تختې کمپلې، ۲ جوړه څپلکې او په دې کورنیو کې ۳ کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه هم وویشل شوه، همدارنګه د ۱ شهید کورنۍ  ته ۲۰۰۰۰ افغانۍ وویشل شوې.

## په پکتیکا ولایت کې د هاوان یوه مرمۍ کشف او خنثی کړل شوه



د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هلوټرست د نړیوالې ماین‌پاکۍ مؤسسې په همکارۍ، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۰ نېټه د یاد ولایت د شکین ولسوالۍ په شمس‌الدین چینې کلي کې یوه د هاوان مرمۍ چې د تېرو جګړو څخه پاتې وه، وموندله او په خوندي ډول یې شنډه کړه. یاده مرمۍ که څه هم د استعمال وړ نه وه، خو د خلکو لپاره د خطر لرلو له امله له منځه یوووړل شوه او د سیمې اوسېدونکي یې له احتمالي زیان څخه وژغورل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات کار ساخت یک پل بزرگ را آغاز کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات به هدف تسهیل رفت‌وآمد مردم و حل مشکلات آنان، بتاریخ ۲۰ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق سنگ‌بنای پروژه ساخت یک پل بزرگ را در روستای بادام‌تو از مربوطات ولسوالی کرخ آن ولایت، با حضور شماری از مسئولان محلی، گذاشت.

این پروژه بر اساس حکم عالی‌قدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله، از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تمویل و عملی می‌شود.

گفتنی است که بر اساس ارزیابی تیم تخنیکی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، محل این پل در معرض خطر سیلاب‌ها قرار داشت و اکنون با هزینه یک میلیون (۱,۰۰۰,۰۰۰) افغانی، کار ساخت این پل به‌گونه عملی آغاز شده است.

در همین حال، باشندگان محل از آغاز این پروژه ابراز خرسندی کرده و برای بقای نظام و تأمین ثبات دعا نمودند.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱۵ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د هستوګنې لپاره د آغاخان موسسې (AKAH) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت په نهرین ولسوالۍ کې ۳۱۵ سېلاب ځپلو او بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۰ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې د لومړی قسط، ۴،۳۵۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال یو میلیون او درې سوه اویا زره او دوه سوه پنځوس (۱,۳۷۰,۲۵۰) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶۷ کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې

د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د ورلډ ویژن مؤسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۰ نېټه د "ټولنیز چلند او ژوند ژغورنې مرستې له لارې د انعطاف رامنځته کولو" پروژې په چوکاټ کې، د دې ولایت په قیصار ولسوالۍ کې ۲۶۷ مستحقو کورنیو ته د درییم او څلورم پړاو نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د دریيم او څلورم پړاو په توګه هرې کورنۍ ته ٤٢.٨ ډالرو برابر ۵۸۲٤ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره یو میلیون، پنځه سوه او پنځه پنځوس زره او اته (۱،۵۵۵،۰۰۸) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

**عامه پیغامونه :**

**9. وتړ په احتیاط چلوئ چې هدف ته ژر ورسېږئ چټک تګ مه کوئ چې د کومې پېښې د رامنځته کیدو له امله دربانديې ناوخته نشی**

**10. ماینونو او ناچاوده توکو ته لاس مه وروړئ که چیرې مو کوم ماین یا ناچاوده توکي ولیدل د ماین پاکې مسؤلینو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ**

**11. طبیعي پېښو ته چمتووالي نیول د ژوند ژغورنې یو اړین اصل دی**